هفته واره رساله

# د الله پاک ویره لرونکو نمونځ

(پښتو)

- هر وخت ژړېدلو والا بُزُرګ
- زړ زړ نمونځ کولو سره څۀ کیږي؟
- عوام دې د کومې درجې تلاوت کوي؟
- د ناوک نمونځ (واقعه)


شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي دامت برکاتهم العالیه



پیشکش:

المدینة العلمیة (دعوت اسلامي)

Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د الله پاک ویره لرونکو نمونځ

دا مضمون د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب "فیضانِ نماز" صفحه 355 تا 362 او 367 تا 374 نه اخستے شوے دے.

**دعائے عطّار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د خوفِ خدا لرونکو نمونځ" ولولي یا واوري هغهٔ ته خپل حقیقي خوف عطا کړې او سره د مور او پلار يـې بے حسابه وبخښې.

اٰمین بِجاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلّم

## دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: په ورځ د قیامت به په خلقو کښې ما ته زیات نزدې هغه وي چا چې په دنیا کښې په ما باندې زیات درود لوستلي وي. (ترمذی، 2/27، حدیث: 484)

## د شیطان درې وَسلے (حِکایت)

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا **وَهْب** بِن مُـنَـبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شیطان د نبي اِسرائیلو د یو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوکه کولو ډیر کوشش وکړو خو کامیاب نه شو. یوه ورځ هغه بُزُرګ د څه ضرروت د پاره بهر اُووتلو نو شیطان هُم ورسره ملګرے شو، هغه د خواهشاتو او غُصَّے په زریعه دوکه کول غوښتل، خو هیڅ هُم اُونه شو، بیا ئې د هغه د ویرولو د پاره د غَر نه یو کمَر [خټ] را اوښویولو، بُزُرګ د **الله** پاک ذِکر شروع کړو نو هغه خټ لرې لاړو. بیا ئې د هغوئي د ویرولو د پاره د ازمري او نورو سرِے خورو ځناورو شکل اختیار کړو، هغوئي بیا د ذِکرِ اِلٰهي نه کار واخستلو او د هغه پرواه ئې اونکړه. چې کله بُزُرګ **نمونځ** شروع کړو نو شیطان د **مار**

په شکل کښې د هغوئي د ښپو نه شروع شو او بدن نه ئې راتاؤ شو، تر دې چې سر ته ئې اورسيدو، چې کله هغوئي **سَجْدَه** کول غوښتل نو د مخ نه ئې راتاؤ شو، چې بُزُرګ د سجدے د پاره سر مبارک کيښودلو نو مار خُله بيرته کړله چې د هغوئي سر په خُله کړي، بُزُرګ هغه لرې کړو او په زمکه ئې **سَجْدَه** وکړه، چې **نمونځ** ئې پوره کړو نو **مخکښې** روان شولو. شيطان ښکاره **مخې** له ورغے او وئې وئيل: ما ستاسو د دوکه کولو ډير کوششونه وکړل خو کامياب نه شوم، زه تاسو سره دوستي کول غواړم، آئنده به تاسو کله هُم نه دوکه کووم. بُزُرګ وفرمائيل: تا نن زما د ويرولو ډير کوشش وکړو خو **بِحَمْدِ**الله زه اُونه ويريدم، زه ستا د دوستئ هيڅ ضرورت نه لرم. شيطان اُووئيل: آيا تاسو به زما نه د خپل کور د کسانو د حالاتو تپوس نه کوئ چې ستاسو په غير موجودګئ کښې په هغوئي څه تير شو! بُزُرګ اُووئيل: زه د هغوئي نه **مخکښې** مړ شوے يم (يعني ما ته د هغوئي په باره کښې ستا نه د تپوس کولو هيڅ ضروت نشته) **هغه** اُووئيل: آيا تاسو به دا تپوس نه کوئ چې زه خلق څنګه دوکه کووم! هغوئي وفرمائيل: آو دا را ته اُووايه. شيطان اُووئيل: د درې څيزونو په ذريعه ئې دوکه کووم: (۱) بُخل (۲) غُصَّه (۳) نشه. انسان چې کله په **بُخل** کښې اخته شي نو زه د هغه مال د هغه په نظر کښې کم ښکاره کول شروع کړم، دغسې (د خپل مال زياتولو په حِرص کښې) **هغه** د خپل مال شرعي حقونو ادا کولو نه منع شي بلکې پرَدي مال کښې رَغبَت کول شروع کړي. او چې کله انسان په **غُصَّه** کښې راشي نو زه هغه سره داسې لوبې کووم لکه ماشوم چې د پنډوس [يعني بال] سره لوبې کوي. اګر که هغه (دومره نيک وي) چې په خپله دُعا مړي ژوندي کوي نو بيا هُم زه د هغه غُصَّه ناک کس نه نه مايُوسه کيږم، ځکه چې کله نه کله به هغه په **غُصَّه** کښې بے قابُو شي او څه داسې جُمله به اُووائي چې په هغې به ئې آخرت تباه شي. او چې کله انسان **نشه** کول شروع کړي نو زه هغه په خپله خوښه چې کوم طرف ته غواړم هغه طرف ته ئې راښکاږم او بوځمه ئې څنګه چې [خلق] چيلئ د غوږ نه نيولې بوځي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ۱۱۰ مُلَخَّصاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حکايت نه معلومه شوه چې شيطان بنده په هر ممکن صورت کښې د عبادت نه د منع کولو کوشش کوي خو نيک او مُخلِص بندګان د **اللّٰهُ** کريم په مدد د هغه په پنجه کښې د ګيريدلو نه بچ شي. دا هُم معلومه شوه چې بُخل، غُصَّه او نشه د شيطان درې بدترينه وسلے دي چې د هغې په ذريعه هغه د خلقو د بربادولو کوشش کوي، هر مسلمان ته پکار دي چې د شيطان دا وسلے ناکامه کړي.ـ

کمر توڑی ہے عصیاں نے، دبایا نفس وشیطاں نے

نہ کرنا حشر میں رسوا، مرا رکھنا بھرم مولیٰ

(وَسائلِ بخشِش ص97)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## کاش! چې په ژړا ژړا نمونځ کول رانصيب شي

کاش چې! د **نمانځه** د تَکبِيرِ اُولٰی د پاره لاس اوچتولو وخت کښې مو دا تَصَوُّر وي چې داسې ده لکه زه چې **اللّٰه** پاک وِينم. يا کم از کم دا خيال مو پيدا شي چې **اللّٰه** پاک ما وِيني او زه د يو ساعت د پاره هُم د هغه نه پټ نه يم. کاش چې! د قِيام په حالت کښې مو سر د پښيمانتيا نه ټِيټ وي، اُوګې مو د هَيبَت نه رپيږي، مخ مو د ويرې نه زيړ وي، په زړه کښې مو د **خُشُوع** کيفيت وي او د اندامونو نه د هغې اِظهار کيږي او د سترګو نه مو اوښکې روانې وي او په رُکوع و **سُجُود** کښې مو د هغه عَظَمت پيشِ نظر وي او په **سَجْده** کښې مو دا يقين هُم وي چې زه دا وخت **اللّٰه** پاک ته ډير زيات نزدې يم ځنګه چې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "بنده **اللّٰه** پاک ته د ټولو نه زيات نزدې د سجدے په حالت کښې وي." (مُسلِم ص۱۹۸ حديث۱۰۸۳) خو دا ټول کيفيتونه به هله پيدا کيږي چې زړه مو د دُنياوي ګندونو نه پاک او صفا وي، په زړه

کښې مو دا خيال وي چې **اللّٰہ** کريم هر څه وِيني او جواب ورکولو د پاره د هغه **مخې** ته د پيشئ احساس مو وي او په ذِهن کښې مو د آخرت فِکر قائم وي.

## مبارکې سينې به د کټوئ په شان جوش وهلو

سرکارِ نامدار، مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چې کله **نمونځ** ادا کولو نو سينې مبارکې به ئې د کټوئ په شان جوش وهلو. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج ٥ ص ٥٠١ حديث ١٦٣٢٦)

## رنګ به ئې زيړ شولو (حکايت)

د رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي، اِمامِ عالي مُقام، حضرت اِمام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهزاده حضرتِ سَيِّدُنا اِمام زَينُ العابِدِين رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به چې کله اودس کولو نو رنګ مبارک به ئې زيړ شو. د کور کسانو ترينه تپوس وکړو: د اودس په وخت کښې دا په تاسو څه اوشي؟ اِرشاد ئې وفرمائيلو: "تاسو ته څه معلومه ده چې زه د چا په بارګاهِ عالي کښې ودريدو والا يم!" (الزهد ص ٣٦٣ حديث ٢١٣٨)

## د مولا علي بدن به په لړزان شو (حکايت)

چې کله به د **نمانځه** وخت شولو نو د حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی**، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بدن به په لړزان شو او د مخ رنګ به ئې بدل شو، عرض به ورته وکړے شو: يا **اَمِيرَ الْمُؤْمِنِين**! څه وشو؟ هغوئي به فرمائيل: د هغه امانت ادا کولو وخت راغے کوم چې **اللّٰہ** پاک په زمکه او آسمان او غرونو پيش کړو نو هغوئي د هغې د اوچتولو نه انکار وکړو اَو وه ويريدل او ما (يعني انسان) هغه اوچت کړلو. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ١ ص ٢٠٦)

## حضرتِ يحيٰ عَلَيْهِ السَّلَام به ډير زيات ژړل

د **اللّٰہ** پاک رښتيني نبي، نبي اِبنِ نبي حضرت سَيِّدُنا يَحيٰی بِن زَکَرِيّا عليهما السّلام به چې کله په **نمانځه** ودريدلو نو (د خوفِ خدا په وجه) به ئې دومره زيات ژړل چې وَنو او د خاورو لُوټو به هم ورسره ژړل د حضرت سَيِّدُنا يَحيٰی عَلَيْهِ السَّلَام به هُم دغسې مُسلسل اوښکې بهيدلې تر دې چې د اوښکو

په سَبَب د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام په مخ مُبارَک زخمونه شوي وو. دهغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام مور مباركې رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا به ورله په زخمونو باندې د ورېځ پتېځ ونخښلولې. د هغې باوجود به چې كله هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام بيا په **نمانځه** ودريدَلو نو بيا به په ژړا شولو، د هغې په وجه به هغه د ورېځ پتېځ لـمدې شوې. والِده **محترَمه** به ئې چې كله د وچولو د پاره هغه نچوړوَلې او هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام به د خپلو ستركو نه وتلې اوبه د خپلې مور په لاسونو بهيدلې ليدَلې نو د **الله تعالیٰ** په بارګاه كښې به ئې داسې عرض كولو: "اے الله پاكه! **دا زما اوښكې دي او دا زما مور ده او زه ستا بنده يم او ته د ټولو نه زيات رحم كوونكے ئې.**" (احياءُ العلوم ج٤ ص٢٢٥ مُلَخَّصاً)

## د فاروقِ اعظم د ژړا آواز (حكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا فرمائي چې ما اَميرُالۡمُؤۡمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ پسې **نمونځ** وكړو، ما د درېٍ صفه شا نه د هغوئي د ژړا آواز واوريدلو.

(حِليَةُ الاَولياء ج١ ص٨٨ حديث ١٣٤)

## د جَهنَّم نقشه جوړه شي (حكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا بِشۡر بِن حُسَين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما چې حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه كله هُم په فرض **نمانځه** ولاړ ليدلے دے نو د هغوئي په ږِيره مباركه مې اوښكې بهيدلې ليدلې دي. حضرتِ سَيِّدُنا اِسحاق بِن اِبراهِيم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما به حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مخ په قِبله په **نمانځه** كولو ليدلو او په پزكې باندې به مې د هغوئي د اوښكو د غورزيدلو آواز اوريدلو. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو عبد الرَّحۡمٰن اَسَدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به فرمائيل چې ما حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته عرض وكړلو: اے اَبُو محمد! تاسو په **نمانځه** كښې ولې ژاړئ؟ هغوئي اووئيل: اے وراره! د دې خبرې تپوس ولې كوې؟ ما عرض وكړو: شايد چې د دې نه **الله** پاک ما ته فائده راكړي. هغوئي اِرشاد وفرمائيلو: **زه چې كله هُم نمانځه د پاره ودريږم نو زما مخې ته د جَهنَّم نقشه جوړه شي.** (اِبنِ عَساكر ج٢١ ص ٢٠٣)

# هر وخت ژړېدلو والا بُزُرګ

حضرتِ سَیِّدُنا سُفیان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي چې د حضرتِ سَیِّدُنا سعید بِن سائب طائِفِي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ اوښکې به تقریباً نه ودرېدلې، هر وخت به ئې ژړل. که نمونځ به ئې ادا کولو نو په ژړا ژړا، که طواف به ئې کولو نو په ژړا ژړا، که قرآنِ کریم لوستلو ته به ناست وو نو په ژړا ژړا، زما به چې ورسره کله په لاره کښې مُلاقات کېدلو نو هُم ژړل به ئې. يو کس هغوئي ته هر وخت ژړېدلو باندې ملامتیا ورکړه (یعني بد ئې ورته اُووئیل) نو په ژړا شولو او (د عاجزئ په طور ئې) وفرمائیل: تا ته (زما په ژړا نه، بلکې) زما په خطاګانو او زیاتو کولو باندې ملامته کول پکار دي ځکه چې دا دواړه (یعني خطاګانې او زیاتي کول) په ما باندې غالِب راغلي دي. هغه کس چې دا واورېدل نو هغوئي ئې پرېښودلو او ترینه لاړو. (الرقة و البكاء مع موسوعة ابن ابی دنیا ج ۳ ص ۲۱۵ رقم ۲٤۲)

# نمانځه کښې د ژړا شرعي مسئله

که د **نمانځه** په دوران کښې د دَرد یا مصیبت په وجه دا الفاظ آه، **اُوه، اُف، تُف** اُووتل یا آواز سره ژړلو کښې حُرُوف پیدا شولو، نو نمونځ **فاسِد** [یعني مات] شو، که په ژړا کښې صرف اوښکې اُووتلې، آواز او حُرُوف ادا نه شو نو باک نشته. (عالمگیری ج۱ ص۱۰۱، رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص٤٥٥) که په **نمانځه** کښې ئې د اِمام د لوستلو په آواز باندې [د آخرت د ویرې نه] اوژړل او "اُوه، اُف" ئې په ژبه جاري شو نو هیڅ باک نشته ځکه چې دا د **خُشُوع** په وجه دي او که د اِمام د خُوش اِلحانئ [یعني ښه آواز] په وجه ئې دا الفاظ اُووئیل نو **نمونځ مات شو**. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ٤٥٦)

تو ڈرا اپنا عنایت کر، رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر
مٹا خوف جہاں دل سے، مٹا دنیا کا غم مولیٰ

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص 98)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نمانځه کښې چې څه لوَلي چې د هغې په معنٰی پوهیږي

د **خُشُوع** حاصلیدلو د پاره په **نمانځه** کښې چې کوم سورتونه او د نمانځه اَذکار لوستلے کیږي مَثَلًا ثناء، سورۃ فاتِحه، د رُکوع او سجدے تسبیحات او دُرُود شریف وغیره، د دې معنے چې معلومې وي چې بنده ته پته وي چې خپل پروردګار ته څه عرض کوي. که د آیاتو او دُعـاګانو معنے په ذِهن کښې موجودې وي نو خیالات به ئې په قابو کښې کیدے شي، او اِنْ شَـآءَاللّٰه مکمل طور به **خُشُوع و خُضُوع** سره د نمانځه کولو سعادت ورنصیب کیږي.

## د دې نه هم نه وي خبر چې ښي او کیڼ طرف ته څوک دے

حضرتِ سَیِّدُنا حَکم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: دا خبره د **نمانځه** د پوره کیدلو نه ده چې تا ته معلومه نه وي چې ستا ښي او کیڼ طرف ته څوک دے. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَیْبَة ج۱ ص۴۹۲ حدیث ۱۵)

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فرمائي: په نمانځه کښې **خُشُوع** دا ده چې نمونځ کوونکے خپل ښي او کیڼ طرف ته کس نه پیژني. تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا سعِید بِن جُبَیر رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ”کله نه چې ما د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا دا فرمان اوریدلے دے، څلویښت کاله کیدو والا دي چې ما په **نمانځه** کښې خپل ښي یا کیڼ طرف ته کس نه دے پیژندلے.“ (اِتحَافُ السَّادَةِ الْمُتَّقِیْن ج۳ ص۱۸۱)

نمازوں میں ایسا گما یاالٰہی　　نہ پاؤوں میں اپنا پتا یاالٰہی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب!　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## زر زر ادا کولو سره د نمانځه رُوح لا ړ شي

رُکوع، سَجْده، قَومه، جَلسه وغیره که اطمینان سره ادا نه کړے شي نو په هیڅ صورت کښې **خُشُوع و خُضُوع** نه شي پیدا کیدے ځکه چې تادئ [جلد بازئ] سره د **نمانځه** رُوح لا ړ شي.

## نمونځ ادا کولو کښې تادي [یعني زر زر کول]

افسوس! نن صبا د مسلمانانو ډېر کم شمیر **نمونځ** کوي او څوک ئې چې کوي هُم نو په هغوئې کښې هُم بعضې خلق د تادئ [یعني زر زر کولو] په وجه ډېر ځله خپل نمونځونه برباد کړي. په تادئ کښې [یعني زر زر ادا کولو کښې] غلط **نمونځ** کوونکے **د نمانځه غَل** قرار کړے شوے دے. د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "په خلقو کښې د ټولو نه بد تر غل هغه دے څوک چې په خپل نمانځه کښې **غلا** کوي." صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: "یَارَسُوْلَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څوک په خپل **نمانځه** کښې څنګه غلا کولے شي؟ نو خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: "هغه د هغې رُکوع او **سُجُود** پوره نه ادا کوي." یا ئې اِرشاد وفرمائیلو: "هغه د هغې په رُکوع و **سُجُود** کښې خپله ملا نه نیغوي." (مُسْنَدِ اِمام اَحمد بن حَنْبَل، ج ۸ ص ۳۸٦ حدیث ۲۲۷۰۵)

## د مال د غل نه د نمانځه غَل بد تر دے

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې حدیث لاندې فرمائي: معلومه شوه چې د مال د غَل نه **د نمانځه غل** بدتر دے ځکه چې د مال غل که سزا هُم اوخوري نو (د غلا د مال نه) څه نه څه ګټه هم وکړي خو **د نمانځه غَـل** به سزا پوره تیروي د هغه د پاره د ګټې هیڅ صورت نشته. د مال غل د بنده حق وهي او **د نمانځه غَـل** د **الله** تعالیٰ حق وهي." دا د هغوئې حال دے څوک چې **نمونځ** ناقِص [یعني پورا نه ادا] کوي. د دې نه دې هُغه خلق د عِبرت درس حاصل کړي څوک چې د سره **نمونځ** نه کوي. (مِرْاٰةُ المناجیح ج ۲ ص ۷۸)

## د بدې خاتِمے وعید

حضرتِ سَیِّدُنا حُذَیفه بِن یَمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یو کس اولیدو چې هغه په **نمانځه** کولو کښې رُکوع او **سُجُود** پوره نه ادا کول. نو هغه ته ئې وفرمائیل: "تا **نمونځ** اونکړو او که ته په هُم

دې حالت کښې مړ شوې نو د حضرتِ سیِّدُنا مُحمّدِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په طریقه باندې به ستا مرګ نه واقع کیږی." (بُخاری ج۱ ص ۲۸٤ حدیث ۸۰۸) د نَسائی په رِوایت کښې دا هُم دي چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ترینه تپوس وکړو: "ته د کله نه داسې نمونځ کوې؟ هغه اووئیل: د څلویښتو کالو نه. وئې فرمائیل: تا د څلویښتو کالو نه بالکل نمونځ نه دے کړے او که په هُم دې حالت کښې تا ته مرګ راغے نو په دینِ مُحمّدي باندې به نه مړ کیږې. (نسائی ص ۲۲۵ حدیث ۱۳۰۹)

## د قارغه په شان ټونګے مه وهه

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن شِبْل رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې نَبِـيِّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قارغه په شان ټُونګو وهلو او د سړے خور ځناور په شان لاس خورولو نه منع فرمائیلي دي.

(اَبو داؤد ج۱ ص ۳۲۸ حدیث ۸۶۲)

## د حدیث شرح

یعني ساجِد (یعني سَجْده کوونکے) دې سَجْده دومره زر زر نه کوي څنګه چې قارغه په زمکه ټونګه اُووهي او فوراً ئې را اوچته کړي او په سجده کښې دې څنګلې په زمکه نه لګوي، څنګه ئې چې سپے، شرمښ وغیره د کښیناستلو په وخت کښې لګوي. (مِراٰۃُالمناجیح ج۲ ص۸۷)

## د زر زر نمونځ کوونکي مثال

د حضرتِ سَیِّدُنا ابُو مُوسیٰ اَشعَري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې د الله پاک خوږ رَسُول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: څوک چې رُکوع په پوره طریقه نه ادا کوي او په سَجْده کښې ټُونګے وهي د هغه مثال د هغه اُوږي په شان دے چې هغه یوه یا دوه کجورې اوخوري نو دا د هغه لوَږه نه شي ختمولے. (اَلتَّرغِیْب وَالتَّرهِیْب ج۱ ص ۱۹۹ حدیث ۷)

## دوه ځله ئې پرېِ بيا نمونځ وکړو

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې يو کس جُمات ته راغلو، رَحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جُمات په يو کُوَټ کښې تشريف فرما وو، هغه کس **نمونځ** وکړو او حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئې سلام وکړو، هغه ته نَبِيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **وَعَلَيْکَ السَّلام**، بيرته وګرځه، **نمونځ** وکړه تا **نمونځ** اونکړو! هغه وګرځيدلو **نمونځ** ئې وکړو بيا راغلو سلام ئې وکړو، خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته وفرمائيل: **وَعَلَيْکَ السَّلام**، بيرته وګرځه، **نمونځ** وکړه تا **نمونځ** اونکړو! هغه دويم ځل يا د هغې نه هُم پس عرض وکړو: يَارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته رازده کړئ. هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ''چې کله ته د **نمانځه** په طرف پاڅې نو اودس پوره کوه، بيا کعبے ته مخ کوه، بيا تکبير وايه، بيا چې څومره قرآن آسان وي اولوله بيا رُکوع وکړه تر دې چې په رُکوع کښې مُطمئن شې، بيا پاڅه تر دې چې نيغ ودريږه بيا **سَجْده** وکړه تر دې چې په **سَجْده** کښې مُطمئن شې بيا پاڅه تر دې چې اطمينان سره کښيني بيا **سَجْده** وکړه تر دې چې په **سَجْده** کښې مُطمئن شې بيا پاڅه تر دې چې اطمينان سره کښيني بيا خپل ټول **نمانځه** کښې هُم دا کوه.'' (بُخاری ج ٤ ص ١٧٢ حديث ٦٢٥١)

## د رَسُولِ اکرم ﷺ په شان نمونځ (واقعه)

تابِعِي بُزُرګ **اَمِيرُالْمُؤمِنِين** حضرتِ عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به په سُنَّتو باندې د عمل کولو پوره پوره کوشش کولو. چې کله هغوئي حاکمِ مدينه وو نو هٰغه ورځو کښې د نَبِيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادِمِ خاص حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د عراق نه مدينے مُنَوَّرے ته تشريف راوړلو نو حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پسې ئې **نمونځ** وکړو. د حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه **نمونځ** د هغوئي ډير خوښ شو، چنانچه د **نمانځه** کولو نه پس ئې وفرمائيل: '' مَا رَاَيْتُ اَحَدًا اَشْبَهَ بِصَلَاةِ النَّبِيّ مِنْ هٰذَ الْغُلَامِ يعني ما د دې ځلمي نه

زيات د رَسُولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مشابهه [يعني يو شان والي والا] نمونځ کولو والا بل هيڅ ځوک نه دے ليدلے." (سيرت عمر بن عبد العزيز لابن جوزی ص ٣٤) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اعلٰی حضرت نمونځ

حضرت مولانا محمد حُسين چشتي نِظامي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اعلٰی حضرت، اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به چې څومره په احتياط **نمونځ** کولو، نن صبا هغه خبره نه ښکاري. هميشه به زما دوه رکعتونه د هغوئي په يو رکعت کښې کيدل او نورو خلقو به زما څلورو رکعاتو سره کم از کم شپږ رکعاته بلکې اَته رکعاته کول. (حياتِ اعلیٰ حضرت ج١ ص١٥٤) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه وشي.**

**اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د آقا قِراءَت.... مرحبا!

هُم دغسې په نمانځه کښې خُشُوع حاصلولو د پاره تِلاوت په قلاره قلاره [يعني په واره واره] کول پکار دي او کوم کوم ځائے کښې چې شرعي رخصت وي هلته مَثَلًا د شپې په تنهائي کښې تَهَجُّد وغيره کښې نهايت خوش اِلحانئ [يعني خوږ آواز او طرز] سره قرآنِ کريم لوستل پکار دي. تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا يَعلٰی بِن مَملک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمّ سَلَمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه د تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قِراءَت په باره کښې تپوس وکړو، نو هغې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې قِراءَت بيان کړو چې د هغې يو يو حَرف واضحه وو. (نسائی ص ٢٨٤ حديث ١٦٢٦ مُلَخَّصاً)

## قرآنِ کریم لږ لوَله خو صحیح ئې لوَله

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه په "**مِرْاٰۃُالۡمَنَاجِیح**" کښې فرمائي: یعني د هغوئي (صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) قِراءَت نهایت په قلاره قلاره [یعني په واره واره] او صفا وو، چې هره کلمه باندې بنده جُدا جُدا پوهیدلو او د هرې کلمے حُرُوف ح، ع، ز، ذ، ظ، ض باندې به بنده واضحه پوهیدلو. یوه کلمه به بلې سره مخلوط (یعني ګډه وډه) نه کیدله، د قرآنِ کریم د تِلاوت هُم دا طریقه پکار ده، د زیات لوستلو کوشش مه کوئ، (اګر چې لږ لوَلئ خو) د صحیح لوستلو کوشش کوئ. (مِرْاٰۃُالمناجیح ج۲ ص۲٤۷)

## ښه قاري هغه دے چې د الله ویره لري

حضرتِ سَیِّدُنا طاءُوس رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه بیان کوي چې د نَبِيّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض وکړے شو: کوم کس په قرآنِ کریم کښې خوش آوازه او ښه قِراءَت والا دے؟ اِرشاد ئې وفرمائیلو: هغه کس چې کله تاسو هغه په قرآن لوستلو واورئ نو محسوسه کړئ چې هغه د **الله** پاک نه ویریږي. (دارمی، ج۲ ص۵٦۳ حدیث۳٤۸۹)

## ..... د اوریدونکو غوني به زیګ شو

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: دا حدیث د هغه ټولو حدیثونه شرح دے په کومو کښې چې د ښه آواز، د ښه تِلاوت حُکم ورکړے شوے دے یعني زړونه دردوونکې ادا او خوفِ خُدا والا قِراءَت ښه دے، نفسِ آواز (یعني د لوستونکې خپل آواز) که نرے وي او که دروند. بعض بُزُرګان لیدلي شوي دي چې د هغوئي آوازونه پیر وو خو د هغوئي په تلاوت به ټخپله د هغوئي هُم او د اوریدونکو غوني زِیګ شولو او زړونه به ئې رپیدل، **الله** پاک دې داسې تِلاوت رانصیب کړي. اٰمِین (مِرْاٰۃُالمناجیح ج۳ ص۲۷٤)

د قرآن تِلاوت کول یقیناً ډیر غټ سعادت دے، د قرآنِ کریم یو حَرف لوستلو باندې **د لسو نیکو** ثواب حاصلیږي، چنانچه **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "څوک چې د کتابُ الله یو حَرف لوَلي، هغه ته به یوه نیکي ملاویږي چې هغه به د لسو برابره وي. زه دا نه وایم [چې] الٓمّٓ یو حَرف دے، بلکې اَلِف یو حَرف، لام بل حَرف او مِیم بل حَرف دے."

(تِرمِذِی، ج ٤ ص ٤١٧ حدیث ٢٩١٩)

# د هر حَرف په بدله کښې 100 نیکۍ

اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: څوک چې په نمانځه کښې په ولاړه د قرآنِ پاک تلاوت وکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدل کښې 100 نیکۍ دي او څوک چې په نمانځه کښې په ناسته تلاوت وکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدل کښې 50 نیکۍ دي او څوک چې د نمانځه نه علاوه په اَوداسه کښې تِلاوت وکړي د هغه د پاره 25 نیکۍ دي او څوک چې بے اودسه تلاوت وکړي د هغه د پاره 10 نیکۍ دي او د شپې قِیام غوره دے ځکه چې هغه وخت زړه زیات فارِغه وي. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج١ ص٣٦٦) (اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج١ ص٨٣١)

بعضې اِسلامي ورونړه په نهایت تیز رفتارۍ سره قرآنِ کریم لوَلي د پاره د دې چې د زیات نه زیات تلاوت سعادت حاصل کړي خو د تلاوت په دوران کښې د تجوید د قواعِدو رعایت نه کوي او غلط ملط ئې وائي، حالانکه د قرآنِ کریم د حُروفو صحیح ادا کول او غلط وئیلو نه ځان بچ ساتل فرضِ عَین دي، چنانچه اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: "بیشکه دومره تجوِید چې په هغې د حُروفو تصحیح اوشي (یعني حُرُوف صحیح ادا شي)، او غلط وئیلو نه بچ شي، **فرضِ عَین** دے." (فَتَاوٰی رَضَوِیَّہ مخرّجه ج٦، ص ٣٤٣)

# قرآنِ پاک په قلاره قلاره [یعني په واره واره] لوستل پکار دي

یو کم دیرشَمه سیپاره، سُوْرَۃُ الْمُزَّمِّل آیت نمبر 4 کښې **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

وَ رَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِیْلًا ۝ [مفهوم] ترجمۂ کنز الایمان: او قرآن ښه په قلاره قلاره [یعني په واره واره] لوَله.

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د "ترتِیل" په وَضاحَت کښې نقل کوي: "قرآنِ مجید دومره په قلاره او په واره لوَله چې اوریدونکے د هغې آیتونه او الفاظ شمیرلے شي." (فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه، ج۶، ص۲۷۶) او فرض نمانځه کښې دې داسې تِلاوَت کوي چې [اوریدونکے] جُدا جُدا په هر حَرف پوهیدلے شي، په تراوِیح کښې په مُتَوَسِّط (یعني درمیانه) طریقه باندې او د شپې په نفلونو کښې ئې دومره تیز وئیلے شي چې پخپله پرې پوهیدے شي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۳۲۰) "مَدارِک" کښې دي: "اِطمینان سره، حُرُوف جُدا جُدا، د وقف (یعني د ودریدلو وغیره د علاماتو) د حفاظت او د ټولو حرکاتو (یعني زیر، زبر وغیره) د ادائیګۍ خاص خیال ساتل دي. "تَرْتِیْلًا" (یعني ښه په واره واره) په دې مسئله کښې تاکید پیدا کوي چې دا خبره د تلاوت کوونکي د پاره نهایت ضروري ده." (مدارک التنزیل ص۱۲۹۲، فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه، ج۶، ص۲۷۸، ۲۷۹) (د ترتیل احکام زده کولو د پاره فتاوٰی رَضَوِیّه جِلد 6 صفحه 275 تا 282 ولولئ)

## عوام دې د درمیانه درجے تادئ والا تِلاوَت کوي

فتاوٰی رَضَوِیّه جِلد 7 صفحه 478 تا 479 کښې په قلاره او درمیانه رفتار باندې د وئیلو په حواله ډیر ښکلے کلام شوے دے، دلته د هغې خُلاصه په آسانو الفاظو کښې د عرض کولو کوشش کووم: څوک چې په قرآنِ مجید لوستلو کښې د غور و فِکر کولو صلاحِیت نه لري د هغوئي د پاره په تِلاوَت کولو کښې د درمیانے درجے تادي [یعني زر زر وئیل] افضل کیدل پکار دي ځکه چې څومره زر زر ئې وائي هغه همره به تِلاوَت زیات کیږي او د قرآنِ کریم په هر حَرف باندې لس نیکۍ دي، که د سلو په ځائے پینځه سوه حُرُوف ولولي نو د زرو په ځائے به پینځه زره نیکۍ حاصلې کړي. او هر ثواب په پوهیدلو باندې مُنحَصِر نه دے.

**حِکایت:** حضرتِ سَیِّدُنا امام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په خوب کښې د **الله** پاک دِیدار وکړو نو

عرض ئې وکړو: اے زما **ربه!** کوم څيز ستا بندګان ستا د عذاب نه خلاصوونکے دے؟ [**الله** پاک] وفرمائيل: زما کتاب (يعني قرآنِ کريم). عرض ئې وکړو: هغه پوهيدلو سره لوستل دي که بغير د پوهيدلو نه؟ وئې فرمائيل: (په دواړو طريقو يعني) پوهيدلو سره (لوستل) او بغير پوهيدلو سره (لوستل). (د تفصيل د پاره اوګورئ: فتاوٰی رَضَوِيَّه جِلد 7 صفحه 478، 479)

تلاوت کی توفیق دیدے الٰہی گناہوں کی ہو دور دل سے سیاہی

شوق راکړې د تِلاوَت يا اِلٰهی د ګناهونو مې ختم کړې عادت يا اِلٰهی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځه ضروري مسائل زده کول ضروري دي

د **نمانځه** ضرروي مسائل زده کول ضروري دي ځکه چې څوک د **نمانځه** فرائض، واجِبات، سُنَّتونه او د **نمانځه** فاسِد کوونکو څيزونو وغيره عِلم لري هغه په ښه طريقه **نمونځ** کولے شي او څوک چې د **نمانځه** د ضرروي مسائلو نه ناخبره وي هغه به صحيح **نمونځ** څنګه ادا کړے شي! ياد ساتئ! په کوم کس چې **نمونځ** فرض دے په هغه باندې د **نمانځه** ضروري مسائل زده کول هُم فرض دي.

## د ناوَک نمونځ (واقعه)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** انتهائي نازک دور راغلے دے، زمونږ خوا و شا د داسې مسلمانانو يو شمير کيدے شي چې هغوئي ته **نمونځ** کول بالکل نه ورځي، څنګه چې د **دعوتِ اسلامي** د يو مَدَني [عالِم] اِسلامي وررور بيان دے چې زه د کراچۍ په يو جُمات کښې امام يم. يوه شپه د ماسختن د **نمانځه** نه پس د **مَدرَسةُ الْمَدِينه** (بالغان) په سِلسِله کښې مونږ يو څو اِسلامي وروڼه په جُمات کښې موجود وو چې يو **ناوَک** [يعني د واده هلک] د يو څو دوستانو

سره جُمات ته راغلو او ما ته ئې اُووئيل: چې ما ته **نمونځ** وکړئ. ما ورته په جواب کښې اُووئيل چې **نمونځ** خو ما خلقو ته کړے دے، تاسو خپل وکړئ. هغه بيا اُووئيل چې تاسو ما ته **نمونځ** ولولئ. نو بيا زه د هغه په خبره پوهه شوم چې هغه وائي چې ما ته د سره هډو **نمونځ** کول نه راځي لِـهذا تاسو ما ته د دې طريقه اوښائے. ما يو پوهه اِسلامي ورور ته اُووئيل چې تاسو دوئي ته طريقه اوښائے. هغوئي ورته طريقه اوښودله خو هغه د 34 کالو ناوَک ته د رُکوع، **سُجُود**، **اَلتَّحِيات** وغيره مُتَعَلِّق هيڅ هُم نه وو معلوم چې دا څه ته وائي او څنګه ئې کوي! تر دې چې هغه ته يو يو څيز اوښودلے شو چې لاسونه غوږونو پورې پورته کړئ او بيا ئې د نامه نه لاندې اوترئ، رُکوع او **سَجده** داسې وکړئ، دغسې د شروع نه واخله تر آخرې پورې هغه ته يو يو څيز اوښودلے شو، او بله دا چې هغه ناوَک د ماسختن د **نمانځه** د پاره نه بلکې څکه راغلے وو چې د هغوئي په برادرئ کښې د واده په موقع رسم دے چې ناوَک به دوه رکعاته نفل ادا کوي.

مسجد تو بنادی شب بھر میں ایماں کی حرارت والوں نے

من اپنا پرانا پاپی ہے، برسوں میں نمازی بن نہ سکا

## ”د قَبر ورومبۍ شپه“ نومې بيان ئې ژوند بدل کړو

**اے د نمانځه عاشقانو!** نمونځونو کښې د تادئ [يعني د زر زر] کولو علامت ختمولو د پاره، د نمونځونو ضروري اَحکامو باندې ځان پوهه کولو د پاره او نمونځونو کښې د **خُشُوع و خُضُوع** جذبه زياتولو د پاره مَدَني قَافِلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو ”مَدَنـي سپرلے“ پيش کيږي: چنانچه د **ډهرکي** (ضلع ګهوټکي، سندھ) يو اسلامي ورور (عُمر تقريباً 24 کاله) دُنيادار شان ځلمے وو او دِيني معلوماتو نه ډير زيات لرې وو. نه د **نمونځونو** پابندي نه د روژو خيال! هيڅ ئې هُم نه کول. غلطو دوستانو سره خوشې ګرځيدل،


فلمونه او ډرامے کتل د هغه معمول وو. د بد صُحبت په وجه ئې شراب څښل هُم شروع کړي وو. د هغه په شان وران کاري کس د نيکو په لاره باندې د راتلو سبب د دعوتِ اسلامي يو مُبَلِّغ جوړ شو چې هغه پرې اِنفرادي کوشش وکړو او د هفته وارې سُنَّتو ډکې اِجتِماع دعوت ئې ورکړو او اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه په اِجتِماع کښې شرکت وکړو. په هغه باندې لږ ډير اثر ضرور وشو خو ګناهونو کښې د قيد کيدلو په وجه هغه د دعوتِ اسلامي ډير بَرَکتونه حاصل نه کړے شو. بيا څه موده پس هُم هغه اِسلامي ورور هغه ته عاشِقانِ رَسُول سره د درې ورځو مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکړلو، په دې باندې هغه لَبَّيْک اُووئيلو او د **الله** په لار کښې ئې سفر اختيار کړو. د مَدَني قافِلے په دوران کښې ورته يو مُبَلِّغ د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي کورس کولو ترغيب ورکړو او هغه ته د دې کورس کولو سعادت هُم نصيب شو. د هُم دې کورس په دوران کښې ورته په فيضانِ مدينه کراچۍ کښې کيدونکې د درې ورځو تربِيَّتي اِجتِماع کښې د شرکت کولو موقع هم په لاس ورغله، په هغې کښې ئې بيان ''**د قبر ورومبۍ شپه**'' واوريدلو نو په زړه کښې ئې تبديلي راپورته شوه او د تيرو ګناهونو نه ئې توبه وکړه او د سُنَّتو مطابق انداز اختيارولو پوخ نِيَّت ئې وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه ته په يو جُمات کښې د امامت کولو سعادت هُم نصيب شو او د علاقائي مشاورت د نګران په حيثيت ورته د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو ذِمَّه داري هُم نصيب شوه.

ترا شکر مولا دیا مدنی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص 647)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net